واحد فقيري ۲۰۱۲/۱۲/۱۰

# خليلزاد او راتلونکي انتخابات

د ډسمبر پر ۷، له بي بي سي سره د ښاغلي خليلزاد وروستی مرکه ځکه جالبه او مهمه وه چي د مرکي په جريان کي يې د يوه احتمالي کانديد اکټ کاوه. لحن او انداز يې د يوه نوماند ښکارېده، او په خبرو کي يې د يوه مصلح او خواخوږي مشر چم کاوه. که څه هم خليلزاد پخپله مرکه کي پر تفاهم راوستولو، ټيم جوړولو، نيټ ورکينګ، ملي ډايالوګ، او د ۲۰۱۴ انتخاباتو ته پر تياري نيولو باندي ټينګار کاوه، خو د بي بي سي خبريال د خليلزاد د کانديدېدنګ پوښتنه په نورو عباراتو تکرارلوه څو بالاخره يې خليلزاد دېته اړ کړ چي د خپل کانديدېدو لاره خلاصه پرېږدي. هغه وويل: د سفر هدف سياسي تماسونه دي. د افغان مطرح مشرانو سره د دغو سياسي غونډو اساسي ټکي -- راتلونکي انتخابات، له ۲۰۱۴ ها خواته د امريکايي قواو پاته کېدل، د طالبانو سره د سولي خبري کول، او د افغانستان اقتصادي وضع ده.

د افغانستان په راتلونکي انتخاباتو کي د خليلزاد فعال ګډون څه سوالونه او انديښني راپورته کوي ځکه هغه په افغانستان کي نه يوازي د متحده ايالاتو سفير وو، بلکي د جمهوررئيس بش لاسي سړی هم وو. د کابل د سفارت په دوران کي، هغه په افغانستان کي د بش د وايسرای صلاحيتونه لرل، او کرزي صاحب هر سهار هدايت ترې غوښت. هغه دغه راز د بش په حکومت کي په عراق او ملګرو ملتونو کي د امريکا سفاروتونه هم کړي دي. لنډه داچي خليلزاد د «تروريزم پر خلاف» د بش د جنګ په خورولو او توجيه کولو کي د زړه له اخلاصه کوښښونه او خولي بهولي دي. خليلزاد په امريکا کي د محافظه کاره ښی او جمهوري غوښتونکي ګوند سره نژدې سياسي او عقيدتي تعهدات او وفاداري لري. هغه د بش په دوران کي د نيوکان په سياسي ډله کي شامل او مطرح کس وو، او د افغانستان او عراق د اشغالولو لپاره يې شرايط برابرول.

د بن به ناکام کانفرانس کي د خليلزاد منفي رول ټولو افغانانو ته څرګند دی. هلته د افغانستان د نوي حکومت جوړښت او ليډرشيپ نا اهلو خلکو او ډلو ته وسپارل سو؛ وارلاډانو ته مشروعيت او رسميت ورکړه سو؛ د خليلزاد تر څارني لاندي په کابل کي سياسي قدرت پر سمتي او سکتوري مصلحتونو باندي ووېشل سو؛ او د نړی يوازنی سوپرپاور د افغان ولس په داخلي لانجي کي د يوې متخاصمي ډلي حامي او ملګری سو. په بل عبارت، په افغانستان کي د امريکا او ناټو د نن ورځي د ناکامی او رسوايی منشا د بن په کانفرانس کي پرته ده. خليلزاد په همدې کانفرانس کي د ډيموکراسی د لومړي اصل پر خلاف حامد کرزی مشر کړ.

همدا راز، د کرزي صاحب اوسنی فاسد او بې کفايته حکومت چي په کورپشن کي يې ماشاالله تازه نړيوال رکاډ مات کړ، د خليلزاد د لاس نښانه ده. البته، د کابل بانک په چور کي د خليلزاد نوم ندی ياد سوی، خو د بين المللي قواو په قراردادونو کي د خليلزاد زوی، الکزاندر، د ميلونهاو ډالرو کاروبار لري. خليلزاد شخصا د طالبانو له دوران راهيسي د تيلو په بزنس کي پانګونه او فعاليت لري.

د خليلزاد د بيا فعالېدنګ يو بل علت ښايي دا وي چي د ۲۰۱۴ جمهوري رياست انتخاباتو ميدان بايد ګرم وساتل سي، ځکه زياتره خلک د انتخاباتو په ارتباط شکمن دي. څرنګه چي افغانانو په تېرو څو انتخاباتو کي پراخ تقلب د سر په سترګو تجربه کړي دی، هغوی د راتلونکو انتخاباتو لپاره علاقه نه ښيي. مطلب مي دا دی چي ښايي خليلزاد د انتخاباتي کمپين د روانولو او تودولو نقش ولري. د هغه موجوديت به په انتخاباتو کي د نورو اشخاصو او سياسي ډلو ګډون تشويق کړي. عامه ذهنيت به مشغول وساتل سي، او په عين زمان کي به د انتخاباتو ډرامه ګرمه وساتلای سي.

په پای کي، خليلزاد د اوباما په حکومت کي نه يوازي د بش د دوران غونډي نفوذ نه لري، بلکي له حکومت څخه ليري ساتل سوی هم دی. ځکه د امريکايانو په عامه ذهنيت کي بش، نيوکان، او په عمومي توګه ټول سياسي راست


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

بي اعتباره سوی دی.   همدا يوه وجه وه چي اوباما دوهم ځل انتخابات وګټل.  البته، که چيري ميت رامني جمهوررئيس سوی وای، هله به يو وار بيا خليلزاد کش کړی وای.  خو  اوس د امريکا د بېکارانو  په کتارونو کي نيوکان او راستيان زيات ولاړ وي، او  تل له ديغت ، بوازيتوب، او  ډېر وخت څخه شکايت کوي.

والسلام

واحد فقيري - واشنګټن


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ